## مطبوعاتي اعلامیه

## د فرانسې وحشت او تور تاریخ یې!

## (ژباړه)

د فرانسې د ولسمشر، مکرون بې ادبي او سپین سترګي تر وروستي حده رسېدلې ده. هغه د ۲۰۲۴م کال، د اکتوبر په ۲۹مه، په مراکش کې پارلمان ته د وینا پر مهال فلسطیني مبارزین او مجاهدین چې د خپلو حقونو او خاورې دفاع کوي، "وحشي" یاد کړل او ادعا یې وکړه چې اسراییل (جنایتکار او یرغلګر صهیونیستي رژیم) حق لري چې له ځان څخه دفاع وکړي.

خو د مراکش پاچا د خپل میلمه له سپکاوي ډکو څرګندونو پر وړاندې هېڅ غبرګون و نه ښود. که هغه لږ هم د عربي او اسلامي غیرت احساسات درلودلی، نو لږ تر لږه یې باید نیولی وی، چې خپلې توهین کوونکي څرګندونې بېرته واخلي او بښنه وغواړي. نه یوازې دا چې داسې کار یې ونه کړل؛ بلکې په خورا بې شرمۍ یې له خپلو امنیتي ځواکونو به استفادې هغه لاریون کوونکي وځپل چې د مکرون د دغه سپکاوي په غبرګون کې راوتلي وو!

همدارنګه، د مراکش د پارلمان غړو ډېر وروسته د مکرون پر څرګندونو اعتراض وکړ او ویې وغندې، خو غوره به وه چې په همغه شېبه یې غبرګون ښودلی وی؛ د دغه سپکاوي مخه یې نیولې وی او یا لږ تر لږه له غونډې وتلي وی.

موږ همدارنګه د مراکش د شریف ولس دریځونه ستایو چې د دغو سپکو څرګندونو پر وړاندې یې چوپتیا اختیار نه کړه او په بېلابېلو لارو یې خپله ناراضیتي څرګنده کړه. ان ډېرو یې د لاریون په کولو د دغو څرګندونو او د مراکش د جوړجاړي کوونکي نظام د بې کارۍ او بې عملۍ پر وړاندې خپله ناراضیتي څرګنده کړه.

د مکرون پر وړاندې باید ودرېږو او د خپل هېواد تور او وحشي تاریخ یې ورته یاد کړل شي او د نړۍ د عامه اذهانو پام د فرانسې ځینې وحشي جرایمو ته راوګرځول شي، تر څو ټول پوه شي چې په حقیقت کې څوک وحشي دی:

۱. فرانسې په صلیبي جګړو کې لویه ونډه درلوده چې په منځنۍ پېړۍ کې یې د اسلامي هېوادونو پر وړاندې ترسره کړې، او په دغو جګړو کې یې د مسلمانانو او انسانیت پر وړاندې تر ټولو ناوړه جرمونه ترسره کړل. نو وحشي څوک دی!؟

۲. د مصر د اشغال پر مهال (۱۸۰۱-۱۷۹۸م)، فرانسه د مصر د خلکو پر وړاندې تر ټولو وحشیانه جرمونه ترسره کړل؛ د اسکندریې ښار یې پر خلکو وران کړ او د مصر د دویم انقلاب پر مهال جنرال کلیبر د قاهرې سیمې په توپونو بمبار کړې، ډېر انقلابیون یې ووژل او د ښار پر خلکو یې خوراکي توکي بند کړل. هغه امر وکړ چې بندیان

ووژني او مړي يې په شپه کې نيل سيند ته واچوي. سربېره پر دې، پر ښځو جنسي تېري وشول او په مصر کې د فرانسې په لاس د وژل شوو خلکو شمېر له پنځوس زرو واوښت. نو وحشي څوک دی!؟

۳. د الجزاير د اشغال پر مهال (۱۹۶۲-۱۸۳۰م)، د فرانسې جرمونه دومره ډېر دي چې په کتابونو کې نه ځايېږي. د بېلګې په توګه، په ۱۸۵۲م کال کې يې د الأغواط ښار وسوځاوه او له ۴۵۰۰ نفوس څخه يې په يوه شپه کې تر دويمې برخې زيات و سوځول. د دويمې نړيوالې جګړې تر پای ته رسېدو وروسته، کله چې د الجزاير خلکو د اشغالګرو پر وړاندې بغاوت وکړ، فرانسې له ۴۵۰۰۰ کسانو زيات ووژل او ۴۴ کلي يې بمبار کړل. په ۱۹۵۵م کال کې، فرانسويانو ۱۵۰۰ الجزايريان په يوه لوبغالي کې راټول کړل، بيا يې ووژل او په ډله ييزو کندو کې يې ښخ کړل. همدارنګه په ۱۹۵۷م کال کې يې د مقاومت مشران ژوندي په غوړو کې جوش او جسدونه يې ويلې کړل؛ مسجدونه يې شهيدان کړل، قرانونه يې وسوځول او لمونځ کوونکي يې ووژل. نو وحشي څوک دی!؟

۴. په ۱۸۹۹م کال کې، د مالي په يوه ښار کې، يوه فرانسوي قوماندان ټولې ميندې او شيدې رودونکي ماشومان راټول کړل او امر يې وکړ چې د نيزو په واسطه يې ووژني. وروسته د فرانسې پوځ د خلکو شتمنی، څاروي او اسونه چور کړل. نو وحشي څوک دی!؟

۵. مسلمانان، په ځانګړي توګه د مراکش خلک، هېڅکله په کازابلانکا کې د فرانسې د ۱۹۰۷م کال جنايت نه هېروي؛ دغه ښار يې په بشپړه توګه ويجاړ کړ او دا پېښه په تاريخ کې د "کازابلانکا ټول وژنې" په نوم ياده شوه. نو وحشي څوک دی!؟

٦. د ۱۹۱۷م کال په نومبر کې، د فرانسې ځواکونو په چاد کې يو وحشيانه جنايت ترسره کړ. دوی علما او د هيواد پوهان د ګډ مديريت د توافق لپاره يوې غونډې ته راوبلل. د چاد علماوو او مشرانو د دوی بلنه ومنله، خو فرانسوي ځواکونو په ډېر بد ډول خيانت وکړ، په ساطورونو يې پرې برید وکړ او د چاد شاوخوا ۴۰۰ تنه غوره علما يې ووژل؛ نو وحشي څوک دی!؟

۷. فرانسې په سوريه کې د اشغال پر مهال (۱۹۴٦-۱۹۲۰) ډېر جنايتونه ترسره کړي. دوی کوڅې او کورونه پر خلکو ونړول، د انقلابيونو سرونه يې پرې کړل او هغوی يې اعدام کړل، پر ښځو يې تېری وکړ او خلک يې له کليو او ښارونو څخه وشړل. نو وحشي څوک دی!؟

۸. په ۱۹۴۷م کال کې، فرانسوي ځواکونو په ماداګاسکار کې د بې ګناه خلکو پر وړاندې ټولوژنه ترسره کړه؛ نو وحشي څوک دی!؟

۹. همدارنگه، باید د فرانسې جنایتونه په بروندي، بوسنیا، هرزګوینا کې او په سویلي امریکا کې د ګویانا هیواد د خپلو مخالفینو د تبعید ځای او د شکنجو د مرکز په توګه بدلون نه هېروو او ډېر نور شنیع جرمونه چې شمېر یې ستونزمن دی. نو وحشي څوک دی!؟

۱۰. فرانسه یوازینی هېواد دی چې په پلازمینه کې یې داسې څه شته چې "د انسان موزیم" نومیږي؛ په دغه موزیم کې د ۱۸۰۰۰ مسلمانو انقلابیونو پرې شوې کوپړۍ ساتل کېږي. نو وحشي څوک دی!؟

دا ده د فرانسویانو اصلي او بدرنګه څېره او د دوی تور تاریخ. سره له دې، همدا فرانسویان چې خپل تمدن یې د بې‌ګناه انسانانو پر اجسادو او د سپین‌ږیرو، ماشومانو او ښځو د سر په کوپړیو جوړ کړی او د ملتونو شتمني یې لوټلې، لا هم د هغوی له سرچینو ګټه اخلي، اسلامي هېوادونو ته راځي او د دغو سیمو پر مدافعینو او مجاهدینو د «وحشت» تور پورې کوي. په الله سبحانه وتعالی قسم چې دا تر ټولو لویه سپین سترګي ده!

د حیرانتیا خبره دا ده چې د اسلامي خاورو هېڅ یو واکمن مکرون "رومي سپی" یاد نه کړ؛ لکه څنګه چې هارون الرشید د نیکفور لپاره دغه لقب وکاراوه. هغه ان یوه کلمه هم په خوب کې ونه ویل، بلکې تسلیم شو او اسلامي دولت ته یې جزیه ورکړه. موږ ماکرون ته زیری ورکوو چې داسې یو خلیفه په راتلو دی چې دغه لقب به ورکړي او په هغه وخت کې به فرانسه د مسلمانانو او انسانیت پر وړاندې د خپلو جنایتونو بیه پرې کړي او د الله سبحانه وتعالی په اراده به یو ځل بیا په ذلت سره اسلامي خلافت دولت ته جزیه ورکړي! ښایي راتلونکی خلیفه په هغه موزیم کې د مسلمانانو د کوپړیو پر ځای د مکرون او نتانیاهو کوپړۍ کېږدي.

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۲۰۲۴م کال، نومبر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د ربیع الآخر ۲۹مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۶/۰۴۲**

**ژباړن: اسرار تکل**